**جمهورية مصر العربية** **١٥ جمادي الاول١٤٤١هـ**
**وزارة الأوقاف** **لغة البشتو** **١٠ يناير ٢٠١٩م**

(١)

# په عقیده او سلوک کې زغم او نرمښت

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ»ژباړه:« الله پر تاسي اسانتيا راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي، »** او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

## و بعد:

نبې کريم صلى الله عليه وسلم يو داسې نړيوال پيغام او رسالت سره راغلی دی چې زغم او آسانتيا يې د ژوند لاره او روش ګرځولی دی نو ځکه په دين کې مشقت او سختی نشته او نه هم په مکلفيت کې کوم مشقت شته لکه چې الله تعالى فرمايي: « وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ»ژباړه:« او په دين کښې يې پر تاسي څه تنګي نه ده راوستې»، همدارنګه نبی کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: په ريښتيا سره دين آسانه دی هر ګز دين په چا باندی سختی نه راولی مګر دا چې هغه کولای شي په سختيو برلاسی شي نو تاسو يو بل سره نيکي وکړئ يو له بل سره نږدی شئ او يو بل ته ښه زيري ورکړئ، نو زغم په اسلام کې يواځي خبره ده نده چې وويل شي او يا هم شعار وي چې پورته کړای شي بلکه دا عقيده ده چې مسلمان بايد ددي سره برابر ژوند وکړي او دا بايد د ژوند لاره وګرځوي، همدارنګه دايو بسنت د هغو بنستونو د جملي څخه دی چې الله تعالى بنده ګانو ته امر کړی چې پخپلو منځو کې دا پلی کړي او الله تعالى دا د خپل رضايت ښنني او د رحمت يو لامل او سبب ګرځولی لکه

چې الله تعالی فرمایي: « وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ»ژباړه:« هغوی باید عفوه وکړي او ورڅخه تېر دي شي. ایا تاسي نه غواړئ چې الله ښښنه درته وکړي؟».
هغه څه چې مونږه یي دلته غوښتنه کوو هغه دا ده چې زغم او نرمښت باید د ژوند لاره وګرځولی شي ځکه د اسلام د مبارک دین غوښتنه دا ده چې دا په عملي توګه پلی کړای شي لکه چې الله تعالی ددي غوښتنه کوي چې پخپلو منځو کې باید عفوه وکړو او د زغم څخحه کار واخلو لکه چې فرمایي: « وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ»ژباړه:« او [اې پېغمبره (ص)!] نېکي او بدي یو شانته نه دي؛ ته د بدۍ مخنیوی په هغي نېکۍ سره وکړه چې هغه ډېره ښه وي، (ته به وګورې) چې ستا سره چې د چا دښمني لوېدلې وه، هغه دې لکه صمیمي دوست ګرځېدلی دی»، همدارنګه نبی کریم صلی الله علیه وسلم هم په عملي توګه دا دخلکو سره په چال چلند کې پلي کړې وه همدې لپاره زمونږ خوږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خپل امت او د ټولو خلکو لپاره غوره پیشوا دی لکه چې هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي: یقینا زه رحمت او د تاسو لپاره هدایت او لاره ښودونکی یم، همدارنګه ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته به چې په دوو کارونو کې د غوره والی اختیار ورکړل شو نو په هغې کې به یي آسانه کار غوره کولو تر هغه وخته پوري چې ګناه به پکې نه وه که چیرته ګناه به وه نو په خلکو کې ډیر لري کدیونکی هم له هغه کار څخه نبي کریم صلی الله علیه وسلم وو.
اوس هغه پوښتنه چې مونږ باید په زغرده او ښکاره ډول سره مطرح کړو دا دی چې آیا مونږ دغه عقیده پخپلو ځانونو او پخپلو سلوکیاتو کې مو پلي کړې ده؟ آیا دا مو د خپلو منځو او نورو خلکو سره په چال چلند کې خپله لاره ګرځولی ده؟ ځکه زغم او نرمښت داسي سلوک دی چې انسان باید د ژوند په ټولو چارو کې په ځان پلي کړې چې لدې جملي څخه د ښځي او

ميره ترمنځ نرمښت او زغم دی ځکه د ښځي او ميړه ترمنځ اړيکه په بشري اړيکو کې لوی او اوچته اړيکه ده چې دا د الله تعالی د نښو څخه يوه نښنه هم ده او الله تعالی ددي بيان کړی چې دا اړيکه بايد په ميني محبت رحمت او په ګده سره د ښه ژوند کولو په بنسټ باندي ولاړه وي لکه چې فرمايي: « وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً»ژباړه:« او د هغه له نښانو څخه (بله) دا ده چي ستاسي لپاره، همدا ستاسي له جنس څخه يې ميرمني پيدا کړې، تر څو چي تاسي له هغو سره ارام تر لاسه کړئ او ستاسي (ښځي او خاوند) په منځ کښي يې مينه او خواخوږي پيداکړه» ، وقال سبحانه : {وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئاً وَيَجْعَلَ اللّهُ فِيهِ خَيْراً كَثِيراً}ژباړه:« له هغو سره په ښه چلند ژوند تېر کړئ. که ستاسي هغوی نه خوښيږي، نو کېدای شي چي تاسي به يو شی نه خوښوئ، خو الله به په هغه کښي ډيري ښېګڼي ايښي وي»، او بيا الله تعالی فرمايی: {وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ»ژباړه:« د ښځو لپاره هم په نېکه توګه هماغسي حقوق دي، لکه څنګه چي د نارينه ؤ پر هغو حقوق دي»، يعنی مقصد دا دی چې په ښه ژوند او نيکو خبرو کې ميړونه هم بايد د ښځو په څير له خپلو ميرمنو سره د هغوی په څير ښه چلند وکړې لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي: په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې د خپلي کورنۍ لپاره ښه او غوره وي او زه د خپلي کورنۍ لپاره په تاسو کې ښه او غوره يم همدرانګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم په نورو بيلابيلو احاديثو کې ټينګار کړی چې بايد د ښځو سره ښه چال او چلند ترسره شي او هغوی ته د خير او د ښيګڼي په نظر و کتل شي.

نو لازمه او مناسبه ده چې زغم او نرمښت د ښځي او ميړه ترمنځ متبادل سلوک وې او همدارنګه يو بشري قانون چې د ژوند چارې پري تنظيم کړای شي او ابودردا رضی الله عنه خپلي ښځې ته څومره خه خبره کړی وه کله چې دی وليدلم چې په غوصه وم نو ته له ما څخه راضي شه او

کله چې تا وګورم چې په غوصه يي نو زه به راضی کيږم دا پښپله يو انسانی زغم او نرمښت دی چې په عدالت او زغم باندي ولاړ دی.
د ګاونډيانو سره نرمښت او زغم: پدي هکله الله تعالی فرمايي: « وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ»ژباړه:« او تاسي ټول د الله بندګي وکړئ، له هغه سره هيڅ شي شريك مه نيسئ. له مور او پلار سره غوره رويه وکړئ. له خپلوانو، يتيمانو او مسکينانو سره نېک چلن وکړئ. او له خپلوانو ګاونډيانو سره، پرديو ګاونډيانو سره، د څنګ له ملګري او مسافر سره د احسان چار چلن وکړئ.»، همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم هم په ډيرو احاديثو کي د ګاونډيانو سره د ښه چلند او ښيګڼي کولو باندي وصيت کړی دی لکه چې هغه صلی الله عليه وسلم فرمايلي: جبرائيل عليه السلام تردي پوري د ګاونډيانو سره د خه چلند کولو وصيت راته وکړ چې ما فکر وکړ چې ميراث وړي، همدارنګه فرمايلي دی څوک چې په الله تعالی او د قيامت په ورځ باندي ايمان او باور ولري نو هغه دي د خپل ګاونډي عزت او درناوی وکړي، همدارنګه هغه يوه ورځ وفرمايل: قسم په الله چې مومن ندی قسم په الله چې مومن ندی قسم په الله چې مومن ندی ورته وويل شول څوک ای د الله رسولا! وی فرمايل هغه څوک چې ګاونډي د هغه د شر څخه په امن کي نه وي همدارنګه هغه صلی الله عليه وسلم فرمايلی: غوره ملګری د الله په نزد هغه څوک دی چې د خپلو ملګرو لپاره غوره وي او غوره ګاونډي د الله په نزد هغه څوک دی چې د خپلو ګاونډيانو لپاره غوره وي، همدرانګه نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلی: هغه څوک مومن ندی چې هغه پخپل کور کي بيغمه شپه تيروي او ګاونډي يي وږی وي.
همدارنګه لازمه ده چې په کار کي پوهنتونونو مکتبونو او په نورو ځايونو کي د ملګرو ترمنځ زغم او نرمښت موجود وي ځکه قرآن کريم ټينګار کړی چې بايد د ټولو خلکو ترمنځ اړيکي پياوړي وي لکه چې الله تعالی

فرمايي: « يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ»ژباړه:« اې خلکو! موږ تاسي له يوه نارينه او يوې ښځي څخه پيدا کړئ او بيا مو تاسي قومونه او قبيلې وګرځولئ، تر څو چي تاسي يو او بل سره وپيژنئ. په حقيقت کښي د الله په وړاندي ستاسي څخه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوك دی چي په تاسي کښي تر ټولو زيات پرهېزګار وي. په باوري ډول الله په هر څه پوهېدونکی او باخبره دی»، همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم له ټولو خلکو سره چې پدي کې يي خپل صحابه هم راتلل ډير خه اخلاق او ښه چال چلند کولو هغه صلی الله عليه وسلم په معاملاتو کې د نرمښت څخه کار اخيستلو د ناروغانو پوښتنه به يي کوله هغوی به يی ليدل په بی وزلو باندي به يي صدقه کوله د هغوی پورونه او اړتياوی به يي پوره کول د هغوی د غلطيانو معافي به يي کولو الله تعالی فرمايي: « فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ»ژباړه:« اې پيغمبره (ص)!] دا د الله لوی رحمت دی چي ته ددې خلکو لپاره ډېر نرم خويه جوړ شوی يې، که داسي نه وای او ته توند خويه او سخت زړی وای، نو دا ټول به ستا له شا وخوا څخه خواره شوي وای. د دوی خطاوي وبښه، د دوی لپاره ببننه غواړه؛ او د دين په چارو کښي هغو ته هم په مشوره کي برخه ورکړه».

په لارو کوڅو او د سوارلی په موټرو کې د خلکو سره نرمښت او زغم څخه کار اخيستل: څکه ښايي انسان ته د بل چا څخه يو ډول زيان ورسيږي څکه پدي کې هر ډول خلک موجود وي سخت طبيعت والا غوصه ناک زغم لرونکی پياوړی کمزوری ځيني ددي د قبلولو توان لري او ځيني نلري نو لازمه ده چې د ټولو سره بايد د زغم او نرمښت څخه کار واخيستل شي او هر چاته په ډير نرمښت ځواب ورکړې لکه چې الله تعالی فرمايي: « وَعِبَادُ الرَّحْمَنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا

خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا»ژباړه:« د الرحمان اصلي بندګان هغه څوک دي چي پر ځمکه باندي په ورو (په عاجزي) ځي او که جاهلان يې مخي ته راشي، نو ورته وايي: "تاسي ته سلام»، همدرانګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي: تر هغه وخته پوري به جنت ته داخل نه شئ ترڅو چې مو ايمان نه وي راوړی او ترهغه پوري د بشپړ ايمان خاوندان نشئ کيدلای ترڅو چې خپلو کې مينه او محبت ونکړئ آيا زه تاسوته داسي څه ونه ښايم چې په کولو سره يو دب سره مو مينه پيدا کيږي؟ پخپلو منځو کې سلام آچول عام کړئ، ددی ترڅنګ همدارنګه لازمه ده چې د لارو کوڅو او په موټرو کې عمومې بنسټونه مراعت کړو چې پکې کمزورو شځو او سپين ګيروته د چوکيو پريښودل او د خلکو د احساساتو مراعت کول د هغوی سره نرمښت کول راځې پدي هکله د پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه بيلابيل حديثونه راغلې دې چې په همدي باندي دلالت کوي.
د زغم او د نرمښت د ښنو څخه بل هم دا دی چې نفس ددي زغم ولري چې په بی وزلو باندي نفقه ترسره شي ځکه چې دغه ډول خيرات او صدقه او ښيګڼه په الله او د هغه پهرسول باندي د ايمان او باور لرلو نښه ده همدارنګه د ځان د اصلاح او برابروالی نښه ده پدي سره مومنان پيزندل کيږي زړونه يو کيږي او بنده پري نيکي ترلاسه کوي لکه چې الله تعالی فرمايي: « لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ»ژباړه:« تاسي نېکۍ ته هيڅکله نشئ رسېدای تر څو خپل هغه شيان (د خدای په لار کښې) ونه لګوئ چي تاسي ته ګران وي»، نو په بی وزلو باندي نفقه کول پخپله ددي ښودنه کوي چې نفس نرمښت زغم لري همدارنګه نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلی: سخی انسان الله تعالی ته جنت ته او خلکوته نږدی وې او له اور څخه ليری وې.
همدارنګه لازمه ده چې په راکړه ورکړه او د پيسو په ادا کولو کې د زغم او نرمښت څخه کار واخيستل شي پدي هکله نبی کريم صلی الله عليه

وسلم فرمايلی: الله تعالی په هغه چا باندي رحم کوي چې په راکړه ورکړه او د پيسو په ادا کولو او ورکولو کې د زغم او نرمښت څخه کار اخلی، لکه چې ددي بيان د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په هغه حديث کې شوی چې عرباض بن ساريه رضی الله عنه روايت کړی چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته نوی درهم ورکړې وو پدي حديث کې د اعرابی يا د بانده چې يادونه هم شوي ده.
نبی کريم صلی الله عليه وسلم د هر هغه کار هڅونه کوله چې په ترڅ کې يي نرمښت زغم او آساني رامنځته کيږي هغه د انسانی وروروِلی د ټينګښت لپاره کار کولو او د خلکو ترمنځ د ميني محبت يووالی لپاره کار کولو هغه چاته به يي ښښنه کوله چې مالی وضعيت به يي ښه نه وو او يا به يی نور هم وخت ورکول پدي هکله هغه صلی الله عليه وسلم فرمايلي دی : څوک چې هغه چاته مهلت ورکړې چې مالی وضعيت يي خه نه وي نو الله تعالی به د قيامت په ورځ د خپل عرش تر سيوری لاندي ودروي او پدي د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نور حديثونه هم راغلي دي چې د زغم نرمښت څخه کار اخيستلو او هغوی ته يی مهلت ورکولو.

## اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

## ډېرو درنو مسلمانانو ورونو:

د زغم او د نرمښت له لويو او آسانو نښنو څخه يو هم ښه او نيکه خبره ده چې چاته يي وکړې لکه چې الله تعالى فرمايي: « وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا»ژباړه:« خلکو ته ښې خبري کوئ»او بيا فرمايی:« وَقُلْ لِعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ»ژباړه:« و [اې محمده (ص)!] زما (مؤمنو) بندګانو ته ووايه چي (خلکو ته) هغه څه واياست چي ډېر ښه وي»، ښه او نيکه خبره بايد ټولوته وشي بغير لدي چې د هغوی رنګونو نژاد او يا هم عقيدی وليدلای شي ځکه دا په ښه روزنه او ښه اخلاقو باندي دلالت کوي لکه چې ويل شوي نيک او خه اخلاق کول ډېر آسان کار دی پراخه ټنډه او نرمي خبري دي.
الله تعالى موسى عليه السلام ته امر کړی وو چې د فرعون سره په ښه ډول خبري وکړې سره لدې چې هغه غرور تکبر او حسد درلود لو پدي هکله الله تعالى فرمايي: « اذْهَبَا إِلَى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَى* فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَى»ژباړه:« تاسي دواړه فرعون ته ورشئ چي هغه سرکښه شويدی* له هغه سره په نرمۍ خبري وکړئ، ښايي چي هغه نصحيت ومني يا ووېرېږي.»، همدارنګه لازمه ده چې د هرډول بيهوده کارونو څخه ځان وژغورل شي لکه چې الله تعالى فرمايي: « وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ»ژباړه:« او هغه (کسان) چي له عبثو او ناکاره کړنو څخه مخ اړوونکي وي؛»او بيا فرمايی:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا»ژباړه:« اې مومنانو ! د الله څخه ووېرېږئ او سمه خبره کوئ»، ويقول سبحانه : «أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلاً كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ* تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا وَيَضْرِبُ اللَّهُ الأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ»ژباړه:« ايا ته نه ګورې چي الله د توحيد د سپېڅلي کلمې مثال کوم شی ښودلی دی؟- د هغې مثال داسي

دی لکه یوه ښه ذات لرونکې ونه، چې د هغې جرړې په ځمکه کښې ښخې شویدې او څانګې یې تر اسمانه رسېدلې دي،* هغه په هر وخت کښې د خپل رب په حکم سره خپلې مېوې راوړي. دا مثالونه الله ددې لپاره خلکو ته بیانوي چې هغوی ورڅخه درس واخلي»، همدارنګه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی: یقینا بنده د الله تعالی د رضا لپاره یوه ښه خبره کوي فکر یې هم نه وي خو الله تعالی به د هغه درجې لوړوي خو که داسې خبره وکړې چې الله تعالی پرې غوصه کیږي نو الله تعالی به یې جهنم ته واچوي، همدارنګه لازمه ده چې مونږ باید په خبرو کې په هیڅ ډول بدې خرې ونکړو ځکه چې پدې هکله هم بیلابیل احادیث راغلی او نبی کریم صلی الله علیه وسلم مونږ له دغه ډول کارونو څخه منعه کړې یو.
نرمښت او زغم د افراط او تفریط ترمنځ حالت ته ویل کیږي چې نه ډېر تندروی وکړي او نه هم ډېر تیریدنه ځکه چې تندروی او تفریط د اسلام د مبارک دین د منهج څخه لیری کارونه دی ځکه چې د اسلام په مبارک دین کې زغم نرمښت آسانی شتون لري چې په مطلق ډول یې تندروی او تشدد له منځه وړی او په هیڅ ډول افراط او تفریط پکې ځای نلرې.
الله تعالی دې مونږ ته توفیق راکړې چې پخپلو ویناوو کړنو چال چلند او په ټول چارو کې د نرمښت او زغم وکړو الله تعالی دې زمونږ چاری سمې کړې او د نړۍ د نورو هیوادونو ترڅنګ زمونږ د هیواد ساتانه وکړې.